


**مسؤل دفتر:** Office of Strategies

## د مدیره هیئت پالیسي 5200
## د کورنۍ ښکېلتیا

### موخه

(Board)مدیریه هیئت تاییدوي چې د کورنۍ ښکېلتیا د ښوونځېو، کورنېو او ټولنو ترمنځ یو ګډ مسؤلیت دی چېرې چې ټول خلک هغه وسایلو او ملاتړ ته یو شان لاسرسی ترلاسه کوي چې د کالج، مسلکي او د ټول عمر زده کړو لپاره د ماشومانو او ځوانانو په وده کې په ګډه سره د بریالي ښوونځي د کورنېو، ښوونکو او Districtکار کولو لپاره اړین دي. د واشو ولایت د تعلیمي حوزې ( ) زده کونکو او مدیرانو په همکارۍ د حوزې د ستراتیژیک پلان پر بنسټ داسې ستراتېژۍ جوړوي او هغو ته وده ورکوي چې د کورنۍ د اغېزناکې ښکېلتیا ملاتړ کوي او د هغې ظرفیت لوړوي او د لا ډېر اغیزناک شریک په توګه د زده کونکو، کورنېو او ښوونکو اړتیاوې منعکس کوي.

### تعریفونه

1. "کورنۍ" هر هغه لوی مراقبت کونکي/سرپرست ته راجع کیږي چې د خپلو ماشومانو د پالنې او پاملرنې مسولیت په غاړه لري.

### پالیسي

1. د کورنۍ-ښوونځي د شراکتونو د سمون لپاره، باید اووه مهمو عناصرو ته وده ورکړل او هغه باید د حوزې له ستراتیژیک پلان سره نښتي وي:

   a. ټولو کورنېو ته ښه راغلاست. کورنۍ د ښوونځي په ژوند کې فعال ګډون کونکي دي، د ښه راغلاست، درنښت او له یو بل سره تړلي احساس وکړئ.

      i. یو مثبت ښوونیز او روزنیز چاپیریال له کورنېو سره په درنښت او له کلتوري پلوه ځواب ویونکي توګه رامنځته کیږي.

   b. اغیزناکه افهام او تفهیم لرل. کورنۍ او کارکونکي د زده کونکو د زده کړې په اړه په دوامداره، د منلو وړ، دوه اړخیز، معنې لرونکي افهام او تفهیم کې ښکېل دي.

      i. کورنۍ د مرستې په برابرولو او د ښوونځي افهام او تفهیم د ځوابولو په خرنګوالي پوهیږي.

      ii. کورنېو او ښوونکو ترمنځ لیکلی او شفاهي تعامل محترم او د کورنۍ د کور د ژبې او د ښوونیزو او روزنیزو اصطلاحاتو په توګه په پام کې نیول کیږي.

c. د زده کونکو د هوساینې او اکاډمیک بریالیتوب ملاتړ کول. کارکونکي دواړه په کور او ښوونځي کې د زده کونکو د زده کړې او پرمختګ په برخه کې همکاري کوي او د هغوې د پوهې او مهارتونو د پیاوړتیا لپاره دوامداره فرصتونه لري ترڅو دا کار په اغیزناک ډول سره ترسره کړي.

i. ښوونکي او د ښوونځي کارکونکي له یو بل سره مالومات شریکوي ترڅو تشریح کړي چې زده کونکي دواړه په انفرادي او د ټولګي د کچې له معیارونو سره په پرتله کې څنګه فعالیت کوي.

ii. کورنۍ مالومات، سرچینې او فرصتونه ترلاسه کوي ترڅو له ښوونکي څخه زده کړه وکړي او متخصصین ملاتړ کړي چې څنګه دوې کولی شي د ټولګي څخه بهر د خپلو زده کونکو د زده کړې ملاتړ وکړي او د خپل ماشوم پرمختګ وڅاري.

iii. کورنۍ او کارکونکي د زده کړې داسې فرصتونه لري چې د زده کونکو په زده کړې پورې اړه لري او د لویانو د اغیزناکې زده کړې له فعالیتونو سره برابر دي او اړیکه لرونکي، د شتمنۍ پربنسټ، همکاري کونکي او تعاملي دي.

d. هر ماشوم لپاره خبرې کول. کورنۍ هڅول کیږي ترڅو د خپلو او نورو ماشومانو مدافعین اوسي، او ډاډ ترلاسه کړي چې زده کونکي د زده کړې فرصتونو ته مساوي لاسرسی لري.

i. ښوونکي او کورنۍ د هغو سرچینو او پروګرامونو څخه د ګټې پورته کولو لپاره په ګډه کار کوي چې د زده کونکو د بریالیتوب ملاتړ کوي (لکه د انګلیسي ژبې زده کونکي، خصوصي تدریس او مشوره).

ii. ښوونکي او د ښوونځي کارکونکي د ستونزو/شخړو  د حل لپاره کورنۍ ځواکمنې کوي او د زده کونکو وکالت هڅوي.

e. د واک شریکول. کورنۍ او د ښوونځي کارکونکي په هغو پریکړو کې چې په ماشومانو او کورنیو اغیزه کوي مساوي شریکان دي. هغوې پالیسۍ، فعالیتونه او پروګرامونه په ګډه سره رامنځته کوي، یو بل یي په اړه خبروي او پرې اغیزه لري.

i. مدیریان، ښوونکي او د ښوونې او روزنې د ملاتړ متخصصین له کورنیو سره همکاري کوي ترڅو د زده کونکو د ښوونې او روزنې د پریکړو په اړه مساوي غږ او دوه اړخیزه پوهه رامنځته کړي.

ii. د حوزې ټول کارکونکي به کورنۍ وهڅوي ترڅو په ښوونځي کې په سیمه اییزه او حوزوي کچه فعال ګډون کونکي شي. ښوونځي او ملاتړ کونکې ډیپارټمنټونه به د والدینو په مشورتي ډلو، د ښوونځي د مدیره هیئت په جلساتو، د ښوونځي په مراسمو او فعالیتونو کي ښکېلتیا وهڅوي.

f. ټولنې سره همکاري کول. کورنۍ او د ښوونځي کارکونکي د د ټولنې له غړو سره همکاري کوي ترڅو زده کونکي، کورنۍ او کارکونکي د زده کړې له پراخو فرصتونو، د ټولنې له چوپړتیاوو او مدني ګډون کولو سره ونښلوي.

i. د ښوونځي کارکونکي د چوپړتیاوو او سرچینو په اړه له کورنیو سره اړیکه نیسي، پروګرامونو ته راجع کول ترسره کوي او د هغو فعالیتونو پلان جوړوي چې د زده کړې فرصتونو ته پراختیا ورکوي.

ii. د ښوونځي کارکونکي د چوپړتیاوو او سرچینو په اړه له کورنیو سره اړیکه نیسي، پروګرامونو ته راجع کول ترسره کوي او د هغو فعالیتونو پلان جوړوي چې د زده کړې فرصتونو ته پراختیا ورکوي.

g. د کورنیو د ښکېلتیا لپاره د کارکونکو د ظرفیت لوړول. کارکونکي د مسلکي زده کړې هغو فرصتونو ته لاسرسی لري چې د هغوی د کلتوري وړتیا کچه لوړوي او عملي او د څېړنې پر بنسټ ستراتیژۍ چې د کورنیو سره په اغېزناکه توګه ملګرتیا کولو لپاره د هغوی وړتیا اصلاح کوي، برابروي.

i. کارکونکي د ښوونځي د مشرانو لخوا دوامدراه روزنه او ملاتړ ترلاسه کوي ترڅو له کورنیو سره ملګرتیاوو ته په دوامداره توګه وده ورکړي.

ii. د ښوونځي مدیران له کورنیو سره د مثبتې ملګرتیا د ارزښت په اړه کارکونکو ته هیلې لیږدوي.

2. مدیره هیئت پدې ډول سره رئیس ته لارښوونه کوي چې د دغه مدیره هیئت د موخې د پلي کولو او ساتنې لپاره اداري مقررات تصویب کړي. رئیس باید په اداري مقرراتو کې لاندې احکام شامل کړي:

a. د هر زده کونکي د بریالیتوب قانون (ESSA) مطابق اړینو شرایطو برخه 116 د کورنۍ د ښکېلتیا پالیسي.

**قانوني شرایط او اړونده اسنادونه**

1. د مدیره هیئت دغه پالیسي د حوزې د ستراتیژیک پلان موخې منعکسوي او د حوزې له دولتي اسنادو سره سمون/مطابقت لري، پدې کې شامل دي:

a. د مدیریه هیئت پالیسي 1505، د حوزې د ملکیت-ګټور لاسرسي لیدونکي؛

b. د مدیره هیئت پالیسي 1160، افهام او تفهیم، د ټولنې ښکېلتیا، او عامه ښکېلتیا؛ او

c. د مدیره هیئت پالیسي 9210، مساوات او تنوع.

2. د مدیره هیئت دغه پالیسي د نیواډا له بیاکتل شوو قوانین (NRS) او د نیواډا له اداري کوډ (NAC) سره مطابقت لري، پدې کې شامل دي

a. 385 څپرکی، د کورنۍ ښکېلتیا لپاره مشورتي شورا، د والدیني دخالت او کورنۍ ښکېلتیا دفتر او په ځانګړې توګه:

i. NRS 385.620.1. - د والدیني دخالت او کورنۍ ښکېلتیا پالیسي؛ او

b. 392 څپرکی، زده کونکي، او په ځانګړې توګه:

ii. NRS 392.456 – 392.458، والديني دخالت او کورنۍ ښکېلتیا.

3. د مدیره هیئت دا پالیسي له فدرال قوانینو او مقرراتو سره مطابقت لري، پدې کې شامل دي:

a. د فدرال د لومړنۍ او ثانوي زده کړو قانون، الف برخه، د هغو ابتدايي پروګرامونو اصلاح چې د ځايي ښوونې او روزنې ادارو لخوا چلیږي، 1116 برخه، د والدېنو او کورنۍ ښکېلتیا؛ او

b. د کورنۍ د ښوونې او روزنې د حق او محرمیت قانون (FERPA) 20 U.S.C. § 1232g; 34 CFR Part 99)

**د بیاکتني تاریخچه**

| نېټه | بیاکتنه | اصلاح |
|---|---|---|
| 3/12/2002 | 1.0 | منل شوې پالیسي |
| 11/20/2007 | 2.0 | بیاکتل شوې |
| 7/24/2012 | 3.0 | بیاکتل شوې |
| 4/10/2018 | 4.0 | بیاکتل شوې: د ایالت له پالیسي سره برابر؛ د پالیسی شمېره له 5036.1 بدله شوې ده |
| 03/29/2022 | 5.0 | بیاکتل شوې: فارمټ د BP 9070 مطابق بدل کړئ، ژبه بدله کړئ ترڅو د ایالت له پآلیسی او د کورنی ښکېلتیا لپاره د ایالت له تعریف مطابق شي. |